د ملکي وګړو د خوندي پتوب ګروپ
گروپ حفاظت از افراد ملکی
Civilian Protection Group

*رسنيزه اعلاميه*

***د ملکی وګړو ساتنی کاری ګروپ***

*د کندوز ملکی وګړی چټک ملاتړ او ساتنی ته ضرورت لری*

*په جګړو کی ښکيلی خواوی ښايی داډ ورکړی چه ملکی وګړی به د هرډول زيان څخه خوندی پاتی کيږی. همدارنګه ملی او نړيوال بنسټونه بايد د سرغړونو او د نړيواله بشرپاله قوانينو او حقونو څخه د سرغړونی په هکله څيړنی تر سره کړی.*

کابل-افغانستان- په کندوز کی د ملکی وګړو بشری او امنيتی وضعيت د طالبانو ډلی په وسيله د نيولو او بيا د بين المللی ځواکونو په مرسته د امنيتی ځواکونو لخوا د عملياتو څخه دوی اونی وروسته، لاهم د انديښنی وړ دی.

په کندوز کی د دوو اونيو وسله واله جګړو په ترڅ کی داسی جنايتونه او د بشری حقونو څخه پراخه سرغړونی شويدی چه لږ تر لږه په تيرو ۱۴ کلونو کی بی ساری دی. د ملکی وګړو وژل، د عامه شتمنيو لوټ او سيځل، د عامه بنسټونو ويجاړول، د رسنيو ګواښل، په خبريالانو، د رسنيو او بشرپاله بنسټونو په دفترونو باندی بريد او د هغو سيځل، په ښځو او نجونو باندی جنسی تيری، ملکی وګړی د انسانی سپر په توګه کارول، پرته له محاکمی ځورونه او وژل هغه جنايتونه دی چه د جګړی د اړونده خواوو او ددوی سره تړلو ځواکونو لخوا تر سره شويدی. پدی سربيره، د کندوز د ناورين له پيله په زرګونو ملکی وګړی، د ښځو او ماشومانو په ګډون، بيځايه شويدی چه ددوی د بشری اړتياوو پوره کولو لپاره اړينی مرستی ندی شوی.

د کندوز د بی پولی ډاکټرانو په روغتون باندی د بين المللی ځواکونو د (پريکنده ننګی) لخوا هوايی بريد بی پری او چټکو څيړنو ته اړتيا لری ترڅو دداسی ناورين د تکرار  مخنيوی و شی.

د ملکی وګړو د ساتنی ګروپ پدی آند دی چه د ملکی وګړو د ساتنی اصلی مسؤليت د افغانستان اسلامی جمهوری دولت په غاړه دی، پداسی حال کی چه د کندوز ملکی وګړی د طالبانو د يرغل او بريدونو په وړاندی بی وسه پريښودل شوی وو.

د ملکی وګړو د ساتنی ګروپ له ټولو اړونده خواوو غواړی چه د ملکی وګړو د ژوند او شتمنيو ساتنی او ددوی د انسانی کرامت ددرناوی لپاره پريکنده ګامونه اوچت کړی او دا لاندی دړانديزونه په پام کی ونيسی:

**د افغانستان جمهوری دولت ته**

۱. افغان حکومت ته د خلکو د ژوند او امنیت د ساتنی د اصلی مسؤل په حیث ښایی چه د پولیس او اردو د ګزمو د زیاتولو له لاری د ملکی وګړو امنیت تامین او د ټولو اړونده ځواکونو لخوا دغچ اخیستونکی بریدونو په کلکه مخنیوی وکړی.
۲. حکومت ښایی ژر تر ژره د کندوز د ملکی وګړو لمړنیو بشری اړتیاوو ته پاملرنه وکړی او ښارته د بشرپالونکو بنسټونو راګرځیدو ته لاره هواره کړی.
۳. حکومت باید د وسله والو ډلو او د هغه حکومتی ځواکونو، چه په ناقانونه کړنو کی ښکیل دی، د جرمونو په هکله څیړنی تر سره کړی.
۴. دولت دی د ملکی وګړو د تلفاتو او مالی زیانونو ارزونه او ددوی د مالی زیانونو د جبران لپاره اقدام وکړی.

**په افغانستان کی میشت بین المللی ځواکونو ته**

۱. د ملکی وګړو د ساتنی ګروپ د بین المللی ځواکونو لخوا پر بی سرحده ډاکټرانو روغتون باندی د برید د مسؤولیت منل، د څیړنو تر سره کول او د ملکی وګړو د زیان د جبران ژمنی هرکلی کوی. یاد ګروپ ددی ځواکونو څخه په کلکه غوښتنه کوی چه د خپلو څیړنو پایلی د خلکو سره شریکی کړی، د قانون څخه د سرغړوونکو څخه پوښتنه وکړی او ژمنه وکړی چه داسی پیښی به بیا نه ترسره کیږی.

**د طالبانو ډلو ته**

۱.طالبان ښایی د بین المللی، اسلامی او دودیزه بشری قوانینو پر بنسټ د ملکی وګړو تعریف ومنی او هغه کسان چه نیغ په نیغه په وسله واله جګړه کی ښکیل ندی ملکی کسان وبولی او هغو ته د هرډول زیان رسولو څخه ډډه وکړی. د ملکی وګړو د منل شوی بین المللی تعریف د منلو څخه په هر عنوان سرغړونه د جګړی قانون څخه سرغړاوی او د قانونی پوښتنی وړ بلل کیږی.

۲. طالبان باید د ټپیانو، اسیرانو، ښځو، ماشومانو او بیځایه شویو حقونو ته درناوی او د هغوی ساتنه وکړی.

۳. طالبان ښایی د خپل سری بندیانولو، پرته له محاکمی وژنی او د ملکی وګړو څخه د انسانی سپر په توګه ګټی اخیستنی څخه په کلکه ډډه وکړی.

۴. طالبان باید خپلو سرتیرو او نورو غیر مسؤوله وسله والو ته اجازه ورنکړی چه ددوی تر ولکی لاندی سیمو کی ملکی وګړی وځوروی او زیان ور ورسوی. که نه نو مسؤولیت به ددوی پر غاړه وی.

۵. طالبان نه ښایی چه خلک په جبر سره جګړی کی ښکیل باسی یا هغوی پخپلو نیابتی شخړو ورګډ کړی. دوی ته ښایی چه عامه بنسټونه وران نکړی او شخصی او حکومتی شتمنی لوټی نکړی.

۶. طالبان باید بشرپالونکو کسانو او بنسټونو ته اجازه ورکړی چه د کندوز ملکی او بیځایه شویو وګړو ته بیړنی بشری مرستی ور ورسوی.

**دملګرو ملتونو یوناما څانګی او بشر د حقونو خپلواک کمیسیون ته**

۱.د ملګرو ملتونو د معاونیت د حقوقو څانګی (یوناما) او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون ښایی په کندوز کی د پیښنو شویو جنایاتو په هکله څیړنه وکړی او د هغه موندنی د افغانستان د خلکو سره شریکی کړی.

۱.ملی او نړیواله بشرپالونکی بنسټونه ښایی د خپلو بشرپاله مرستو لړی د کندوز جګړه ځپلو خلکوته لاهم ګړندی کړی.

**د ملکی وګړو ساتنی ګروپ**

**د ۱۳۹۴ د تلی میاشتی ۲۳ ــ د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۱۵**